قال تعالی وَلْتَكُنْ مِنْكُم اُمّةٌ يَّدْعُونَ اِلَى الْخَيرِ ط (آل عمران)

ترجمه: خامخاد په تاسو کښې يو ټولې وی چه بلی خلق خير ته

(يعنی قرآن او سنت ته)

جماعت اشاعت التوحيد والسنة

# منشور

الناشر

جماعت اشاعت التوحيد والسنة

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

### دنیامیں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

### Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاََ تفاسیر ، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاََ فوقتاََ Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

حقوق الطبع محفوظة

اسم : منشور

مصنف: شیخ القران و الحدیث العلامه

**محمد طاهر** نوّر الله مرقده

کمپیوتر: تحت اشراف مولانا نقیب الله

(حنیف)

تعداد: ۲۰۰۰ طبع

مطبعه: مکتبة الاشاعت محله جنکي

بشاور (۰۳٤٥٩٤٥٩٢٠٩) (۰۳۰۰٥۸۷٥٤۲٥)

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله كفى وسلام على عباده الذين الصطفى اما بعد :

د ډيرې مودې راسې ځما دا آرزو وه چه هغه منشور چهاپ کړې شي کوم چه په کال ١٣٨٣ھ بمطابق ١٩٦٣ء حضرت شيخ القران و الحديث امام الانقلاب والد محترم په مورنى ژبه (پښتو) ليکلې وو او په هغې کښې ډير قيمتي ملغلرې پيلې وې خو په نن سبا کښې او د مصروفيات کثيرو د وجهې پاتې وو.

نن د رب العزت احسان دې چه هغه بيا چهاپ کوو.

ځه د ټولو ملګرو نه حيله کووم چه دا منشور د ځان سره او ساتي او په دې طريقه د قران او سنت او د جماعت خدمت وکړي.

و انا الاحقر محمد طيب طاهري

امير جماعت اشاعت التوحيد و السنة

محرم ١٤٣٣ بمطابق دسمبر ٢٠١١ء

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## بسم الله الرحمن الرحيم

## الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدنا محمد وآله وصحبه اجمعين .

# تمهيد

د مخلوق د خیر خواهۍ دپاره ځو مره جماعتونه یا راه نمایان چې میدان ته شوی دی په دې ټولو کښې اعلی او بهتر جماعت د انبیاء علیهم السلام وو :

(۱) : ځکه چې د دوئ خیر خواهی د دارینو خیر خواهی وه .

(۲) : او د دوی قوانین او اصول د عقل انسانی جوړ شوی نه وو .

(۳) : او نه د دوی د خپلې مرتبې د رفعت دپاره کوشش کوو .

پروردگار عالم دوی په بهترین خطاباتو او منازلُ سره یاد کړی دی خصوصاً د ټولو وروستو حضرت خاتم الانبیاء یې په رحمة للعالمین سره ممتاز کړی دی. صلی الله علیه وآله واصحابه وسلم. او عام مخلوق ته یې د هغه په اتباع سره امر کړی دی او فرمائیلی یې دی ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي ﴾ آل عمران: ۳۱:

دی بهترین جماعت پسې تلل یې صراط مستقیم ګرځولې دې

﴿ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

په خلاف د نورو جماعتونو چې په هغوئ کښې دغه دري واړه اصول یا بعض ورک وي د دې وجې نه د هغوی اتباع بهتره نده ګرځولی شوی او نه هغوی د ربار د رب العزت کښې منظور او مقبول شوی دی، بلکه د څو ورځو د غلبې او تسلط نه پس د ذلت او د خسران مقام ته رسیدلې دی.

د هر پیغمبر نه پس به د دین آلهی د تجدید دپاره رب تعالیٰ بل پیغمبر رالیږه.

مګر دا سلسله په حضرت جناب محمد ﷺ ختمه شوه.

. او د دین محمدی نه د تحریف او د باطل تاویل او د بدعاتو د لرې کولو دپاره یې دا فریضه په حق پرستو علماؤ د دې امت کیخوده لکه چې حدیث شریف کښې ارشاد دې: **ینفون عنه تحریف الغالین وانتحال المبطلین** هغه حق دین چې یواځې او بې ملګری شروع شوی وه. **بدء الاسلام غریبا**: او رب تعالی کمال واتمام ته رسولې وه. **الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی**: بیا غربت او زوال ته اورسید. په حکم د ارشاد نبوی. **وسیعود کما بداء**: او پدې قول د الله تعالی: ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ ﴾ دأمت عزت او رفعت بیا پستې او ذلت ته اورسیده.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## د ذلت سبب

اکثر جماعتونه د ذلت سبب بی اتفاقی ناداری او غلامی ذکر کوي د دې وجې نه هغوی په ملک کښې د یووالی (اګر که عقیده یو کافر بل مسلمان وی) کوشش کوی. او دیته اتفاق وایې او د حصول د مال او د اقتدار کوشش کوي په هره طریقه چې وي پدې جماعتونو کښې د عقیدې یووالې یا اصلاح د عمل مراد نه وی، د خپل اقتدار او تسلط کوشش کوی. نه اقتدار د کتاب او دسنت. او الله تعالی فرمایې: ﴿لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾:

قرآن کریم د علو او د رفعت سبب ایمان او تقوی ګرځولی دی: ﴿وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ وقال تعالی: ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾

انبیاء علیهم السلام به اول د توحید او بیا د اصلاح د اعمالو تلقین کوو، او پدې سره انسان د رب تعالی د وعدی فلاح د دارینُ لائق او اهل ګرځې: د ایمان د بیان د پاره پروردګار عالم آسمانی کتاب قرآن کریم نازل کړی دی. او دهغې په لوستو او په فهم او تدبر یې ځائ په ځائ امر کړی دی او ترغیب ئې ورکړی دی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

او میزان د عمل صالح یې د حضرت محمد رسول الله ﷺ ژوندون دهغه قول او فعل او تقریر چې په خیر القرون کښې جاري شوی وو ګرځولی دی.

## د قران وسنت پرېښودل سبب د ذلت د دارین دی

هر کله چې قرآن کریم د درسونو نه خارج کړی شو. او فهم د مطالبُ د قرآن کریم مشکل اوګرځولې شه. او قرآن نوم صرف د الفاظو شو د یو سند یافته عالم دپاره یا دیو مدرسې اسلامی په نصاب کښې به د منطق فلسفې کتابونه ضروری وی: مګر د قرآن کریم د یو سورت مطلب هڅ ضروری نه دی. اګرچې عام چندې په نوم د دې مظلوم کتاب تولـه ولـې شي او: (**خیرکم من تعلم القرآن وعلمه**) د چندې د رسید په نندی نشان وی
او هم دارنګې میزان د عمل صالح چې سنت نبویه علی صاحبها الصلوة والتحیه وه پرېخودی شه. او عمل د پیرانو او د ملایانو دین اوګرځولې شه: نو نتیجه دا شوه چې شرک او بدعت د مسلمانانو په عقائدو او اعمالو کښې بیا خلط شو. او روح د ایمان مړاوی شه او اعمال کوته اوګرځېدل
دنیا پرستو راه نمایانو خپله ګټه په دین اوګرځوله. او کتاب او سنت یې په لاسونو او خولو کښې قوم ته د خپلې فتح دپاره پیش

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

کړو، د هغوي مطلب د دين ګټه نه وه. بلکه په دين ګټه وه او د خپل مقصد دنيوي د عروج نه پس هغوي کتاب او سنت بيا هير تير کړو. غلطو پيرانو د قران کريم د پريخودو نه فائده واخسته او شرک يې ذريعه د معاش کړه. او ايمان يې د مخلوق نه په شرکي وظائفو او په منختو (نذر ونياز) د غير الله او په شرکي کارونو مثلاً د دلبارونو طواف و چوکټ خکلول او په ځان باندې کانړې وهل د غلاف خکلول قبرونو ته سجده کول، د قبرونو نه مدد غوښتل او سوال ترينه کول او اولياء کرام مالکان د نفع او نقصان او ذمه دار ګڼړل.

الغرض فرمان د نبي عليه السلام: **لاتقوم الساعة حتى تضرب اليات نساء دوس حول ذى الخلصه**. رشتيا شه.

پدې اقوال افعالُ د شرک يې ايمان د مخلوق لوټ که او شرک يې ايمان او توحيد اوګرځوو.

## دعلماء سُوء رويه د سنت نبويه ﷺ په پريخودو

هغې دنيا پرستو علماؤ چې دين يې ذريعه د معاش او د دنيا اوګرځوو خپل عمل او د مشائخو عمل يې دين اوګرځوو. او هر قسم بدعت رواج ته يې شرع او وئيله چې هغې کښې د مسلمانانو خواري او د آخرت تاوان دي.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

هیځ مسلمان یې په ژوند او مرګ کښې بغیر د خپل تیکس نه پرې نخودو، او نه یې د یو عزتمند عزت او ناموس اوساته. او نه یې غریب یا یتیم باندې رحم اوکه. او هر قسم عبادت او طاعت باندې یې اجرت جائز او حلال کړه:

مثلاً بانګ د پیدائش باندې اجرت او سنت کوژدن واده کښې د دوی برخه او د مړی غسل په اجرت او جنازه دپاره د پیسو او د غمژن د کور نه خپله میله جوړول او د یتیم غریب مال ویشل د هر قسم زکوة او فدئې ځان مستحق ګنړل. ثواب د ختم القرآن په یو پیاله د چایو یا په یو څو پیسو ورکول د وئ پیشه کړل.

**الغرض**: په غم او ښادئ کښې د سنتو خلاف کول او رسم او رواج دین ګنړل پدې ملک کښې د دې رواجیانو ملایانو د ډیرې مودی نه پشه ګرځیدلی ده.

## ضرورت د توحید او سنت

پدې حالاتو کښې په حق پرستو علماؤ دا فریضه عائده ده چې په ډیر کوشش او قوت سره د قرآن او سنت اشاعت شروع کړی او د رسول کریم ﷺ راوړی شوی دین چې په هغه کښې فلاح د دارین ده پیش کړی.

او اصل سبب د زوال چې دقرآن کریم فهم پریخودل دي او د سنت نبویه علی صاحبها الصلوة والتحیه ترک کول دی زائل کړی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

اګر چې د باطل پرستو نه قسما قسم تکالیف پدې لاری کښې پیښیږی کله کنځل، کله غلطی فتوی، کله عوام د حق پرستو خلاف کول، کله حکومت وقت ته په دوی ناجائز الزام لګول او باغیان د حکومت او جاسوسان د بل حکومت وئیل، او دوی ته د شراو فساد نسبت کول.

په هر ملک کښې اؤ هره زمانه کښې د توحید او سنت داعیان پدې الزامونو اوپه رنګ رنګ تهمتونو باندې بدعتیانو او مشرکانو ملایانو متهم کړی دی.

خصوصاً په پښتنو کښې عام حق پرست په سخت تکلیفونو کښې مبتلی شوی دی.

لکه بایزید بن عبدالله الانصاری المولود سنه ۹۳۲ المتوفی سنه ۹۹۲ مصنف د صراط التوحید او د خیر البیان چې دی داعی د توحید او سنت وه. کتابونه یې په دې ګواه دې، د زمانی د باطل پرستو ملایانو د لاسه قتل شو، او مال یې تاله کړی شو. او بی بی یې یو ډم ته حواله کړی شوه. او د مرګ نه پس یې بدن په لارو کوڅو کښې راخکې شو.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه چې پښتانه یې د سکهانو نه خلاص کړی وو. او د ذلت او رسوائې په ځائ هغوې منزل د رفعت ته رسیدلی وو.

مګر کله چې حضرت سید صاحب رحمه الله د مذموم رسوماتو نقشه پیش کړه. او د ملک د عامو خوانینُ او علماؤ مخکښې یې او فرمایل، چې ځمونږ اصل مقصد دا دی چې د اسلام د احکامو پابندی دې پوره اوکړې شي. او بدعات او رواج ورسم لکه اسقاط مروجه وغیره د ترک کړی شي. د دې اجتماع منعقده یکم شعبان سنهٔ ۱۲۴۴ هـ مطابق ۲ فروری سنهٔ ۱۸۲۹ نه پس په هغوی فتوی شروع شوی او د هغوی ملګری ځائ په ځائ شهیدان شو. او حضرت سید صاحب او شاه صاحب د دې ملک نه مهاجر شو. او حضرت سید امیر صاحب رحمه الله ساکن کوټه په خپل کلی کښې شهید کړی شو.

## الغرض

په سرحد او قبائلو کښې د توحید او سنت نوم اخستل ځان مصیبت او تهمت او تکلیفونو ته نیول دی.

د قرآن کریم دروس د ډیری مودې نه ترک شوی دی او ترجمه د قران کریم مشکله ګرځولی شوی ده. عام بدعات او رواجونه دین ګرځولی شوی دی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

د رواجيانو ملايانو عمل ته دين وئيلې شوی دی او د پيرانو افعال او اقوال شرکيه شريعت ګنړلی شوی دی. حق پرست پخوانی بدنام شوی دی او دهغوی نوم اخستل جرم ګنړلی شوی دی.

د سنۀ ۱۳۵۷ هـ نه وارړندی پدې ملک کښې دا نقشه وه. مګر د رب تعالی وعده د نصرت د حق پرستو سره رشتيا ده او مقام د عزت او د کاميابی دار اخرت دی نه دار دنيا، نو دهغې وخت نه درس قرآن کريم ته چې مقصد اعلی وه ما توجه اوکړه او په هغې کښې د پخوانو حق پرستو جدو جهد لګ لګ بيان کړی شه او د هغوې د تصانيفو تعارف اوکړی شو د ډيری مودی د بيان د توحيد او رد د شرک نه پس بدعت او د سنت فرق واضح کړی شو.

په بيان د توحيد کښې چې د بدعتيانو نقصان نه وه هغوې مخالفت نه کوو. صرف د دې ملک ناکاره پيران او خوړونکی د نذر ونياز د غير الله مخالف وو.

مګر اتلس (۱۸) کاله پس سنۀ ۱۳۷۵ هـ کښې چې د بدعاتو رد شروع کړی شو. او د بدعت سيئه حسنه فرق واضح شو. چې حسن په شرعی بدعاتو کښې نشته. نو د دې ملک هغه ملايان چې مخکښې موافق وو. په يوځل مخالف شو. ځکه چې د ځان تاوان يې اوليده. د پروردګار عالم فضل او احسان دی چې اوس

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

اکثر درسونه د قرآن کریم شروع شوی دی، او د حق پرستو علماؤ یو ټولی ښکاریږي، آواز د توحید او دسنت په اطرافو او جوانبو کښې خور شوی دی.

که موږ د اصولو او د قواعدو لاندې منظم دعوت د توحید او دسنت شروع کړو او په اخلاص او توکل علی الله سبحانه سره په کتاب وسنت باندې مضبوط او ثابت قدم شو. او د شرک بدعت نه اجتناب اوکو. او رد یې اوکړو نو موږ به د مَعۡذِرَةً اِلٰی رَبکم لائق شو.

او کوم ذلت او رسوائی چې مسلمانانو ته رسیدلی ده رب تعالی به یې په خپل فضل وکرم سره لری کړی لکه چې فرمایي: ﴿إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾ وقال تعالی: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ﴿يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ﴾ : د توحید او سنت د خورولو که موږ پوره په استقامت سره او په صحیح قربانی د مال وجان سره تنظیم اوکړو نو دا به پدې قوم کښې د دې قول د نبی علیه السلام چې : **من سن سنة فله اجرها واجر من عمل بها** : مصداق شي

﴿إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ﴾

**وانا الاحقر محمد طاهر عفی الله عنه**

**دار القرآن پنج پیر**

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

# قواعد وضوابط

**قاعده** : (۱) : د دې جماعت نوم به جماعت اشاعت التوحيد والسنة وي.

**قاعده** : (۲) : د جماعت د قواعدو او ضوابطو پابندي په هر رکن د مورخه ۱۰ ربيع الاول سنة ۱۳۸۳ هـ مطابق يکم اگست سنة ۱۹۶۳ لازم وي.

## مقصد دجماعت

**قاعده** : (۳) : د توحيد وسنت جاری کول. او مخلوق د رسوماتو او د بدعاتو. شرکياتو نه بچ کول. چې د مسلمانانو عقائد او اعمال يې باطل کړی دی او په غلطو رواجونو مسلمانان په ذلت او خوارې کښې مبتلی شوی دی چې د مسلمانانو نجات او فلاح د دارينُ نصيب شي، او د رب تعالی سره صحيح تعلق قائم شي

## عقيده د ارکانو

**قاعده** : (٤) : په کلمی د توحيد چې د ټولو انبياء عليهم السلام متفقه کلمه ده. مضبوطه عقيده ساتل. او په مطلب د **لااله الا الله** ځان خبرول او بل ته ښودل : او په دويم جزء د کلمی چې **محمد رسول الله** دي. جناب محمد ﷺ آخری پيغمبر گنړل. او د هغه راوړی شوی دين د دين په ټولو کارونو کښې کامل کنړل. داسې

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

یو کار د دین او د ثواب نشته چې پیغمبر ﷺ هغه ندې کړی یائې نه دی وئیلی : پس د دې عقیدی نه چې دین کامل او پوره دی. دا ضروری شوه چې کوم فعل یا طریقه او عقیده په خیر القرون کښې نه وه هغه دین ګنړل محدث او بدعت دې. **وکل محدثة بدعة وکل بدعة ضلاله** .

## تشریح

کلمه د توحید چې **لا اله الا الله محمد رسول الله** ده په خولې باندې هر یو مسلمان وايې. مګر په مطلب يې ځان نه پوهه کوی د دې وجې نه کلمات شرکیه وايې او افعال شرکیه کوی :

او هغه اوچت والی چه د ایمان سره رب تعالی فرمائیلې وه : ﴿ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ د مسلمانانو نه اخستې شوی دی مطلب د توحید او وضاحت د **اله** : چې څرنګ قرآن کریم پیش کړی دی اول په ښې ځان پوهه کول او بیا بل ته وئیل صرف یو الله خالق د کائنات یا رازق یا مدبر ګنړل د عربو د مشرکانو هم عقیده وه. او صرف پدې عقیده بنده مسلمان نشی کیدی څو پورې چې ځان په مطلب د کلمې د توحید پوهه نه کړی .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## د شرك بيان

مشركين د يو اله منلو ته تيار نه وو بلکه په صفاتو د رب العزت کښې چا فرشتې چا جنات چا نيکان بندګان شريک کړی وو او دا به يې ويل چې څرنګ بادشاه د ملک په وړو وړو کارونو کښې د خپل وطن په اطرافو کښې واکداران مقرر کړی وي او هغوې له په هغه اطرافو کښې اختيار ورکوی او د هغوې سفارش منظور وي، دارنګې رب تعالی اختيارات نيکانو بندګانو له ورکړی دی او د هغوې وينا ښکته نه غورځوی.

لکه چې اوس ډير جاهلان د خپلو پيرانو او د اولياء کرامو په باره کښې دارنګ عقائد ساتی. او هغوې د تبو د امراضو د اولاد او د خير وشر ذمه دار ګنړی.

او وايې چې دوی ته دا اختيار خداوند کريم ورکړی دی او دا د هغوې کرامت دي.

د دې وجې نه اولياء کرامو ته غائبانه فرياد او عاجزئ کوی او هغوې ته رامدد شه وايې. او دارنګې د اولياء کرامو په نوم منختی ورکوی او چا په خپل ځان د هغوې اړی او اوګی مقرر کړی دی او په نه ورکولو د هغوې نه ټکره او نقصان ګنړی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

**العرض**: د رب تعالی هر صفت کنبې چا پیریان چا اولیاء شریک کړی دی او د الله تعالی ارشاد ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴾ پوره شوی دی. یقیناً رب العزت جل مجده مرتبی د اولیاء کرامو پورته کوی او په هغوې فضل او احسان کوی مګر په خپلو صفاتو کنبې هغوې نه شریک کوی.

## اصل توحید

د **لا اله الا الله** مطلب چې انسان خپل ځان بی وسه عاجز (عبد) او محتاج اوګنړی او دا رنګې ټول مخلوق محتاج عاجز ګنړل یو ذات د رب العزت واکدار د خیر و شر د عزت او د ذلت د اولاد او د دولت د مرض او د صحت ګنړل.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴾ فاطر: ۱۵

**ترجمه**: ای خلقو تاسو ټول محتاج یې الله ته او صرف الله د هر څه نه بی پروا دی. او ستائیلې شوی دی.

﴿ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ﴾ آل عمران: ۲۶

**ترجمه**: ته عزت ورکوی چاته چې اوغواړی او ذلیل کوی څوک چې اوغواړی خاص ستا اختیار کنبې ټول خیر دي.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

﴿ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ﴾ الشورى: ٤٩ — ٥٠.

**ترجمه**: دا د الله کار دی چې چاته لونړه ورکوي او چاته ځامن ورکوي یا ورته ځامن او لونړه دواړه ورکوي او څوک کړي شنډ (بې اولاده).

﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ القصص: ٦٨.

**ترجمه**: او رب ستا پیدا کوي څه چې غواړی او اختیار د هغه دی د مخلوق اختیار نشته.

﴿ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ﴾ فاطر: ۲ :

**ترجمه**: کوم رحمت چې الله خلقو له پرانځی نو هغه رحمت هیڅوک نشی بندولی.

﴿ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ﴾ الأعراف: ۱۸۸ .

**ترجمه**: او ایه ای پیغمبره چې زه ځان دپاره هم د نفع نقصان مالک نه یم.

پروردګار عالم مخلوق کښې د چا دپاره د نفع نقصان مالک نه مقرر کړی دی او نه مقرره وی. څرنګه چې مشرکان وایي

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

اونه څوک غائبانه طور باندې د مخلوق په حال بې د الله تعالی نه خبردار دي او نه پس د مرګ نه نیکان بندګان د مخلوق په حال پوهیږي، چې تصرف په ژوندو کښې کوی یا د دوئ دپاره څه غواړي. څرنګه چې قرآن کریم کښې د مشرکانو عقیده بیان شوی ده. ﴿وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ﴾ یونس: ۱۸

**ترجمه**: او دا مشرکان وایې چې دا خدیان (بزرګان وغیره) څمونږ سفارش کوی الله ته. ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ﴾ الزمر: ۳

**ترجمه**: مونږه خو د دوی عبادت د دې دپاره کوؤ چې الله ته مونږه په مرتبه کښې نزدې کړي.

پس هر قسم عبادت که قولي وی یا فعلي یا بدني بې د الله تعالی نه بل چاله کول شرک دي: لکه غائبانه مخلوق ته فریاد کول رامدد شه وئیل دا **شرک فی الدعاء** دی.

یا د الله تعالی نه بغیر بل څوک بې د اسبابو هر وخت په ځان خبردار ګڼړل **شرک فی العلم** دی

یا د ظاهر اسبابو نه علاوه د بل چا نه نفع نقصان تکره ګڼړل **شرک فی التصرف** دی.

یا هغه کارونه چې رب تعالی لره خاص دي یا هغه صفات چې د رب تعالی دی **عقیدةً بل چا** لره کول یا منل **شرک فی العبادت** دی

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

دارنګی په نوم د اولیاء کرامو نذر مقررول چې که دا کار مې اوشو. نو د فلاني بابا به ګډه یا چیلی یا نقد یا طعام ورکړم. دا عبادت مالی د غیر الله دی.

یا سالانه یا فصلانه د قُلبِی یا د اولاد دسر د اولیاء کرامو په ځان څه مقرر کول که ورنه کړو نو نقصان را رسی دا ټول کارونه د شرک دی او دا ټول څیزونه حرام دي.

د داسی عقیدې سره هیڅ عمل نه قبلیږي. او نه صرف په وینا د الفاظو د کلمی بنده مؤمن کیدې شي اګر چې هغه پابند د صوم وصلوة حج و زکوة وی.

مشرکین عرب د دې کارونو کونکی وو. او بیت الله هم هغوې جوړ کړی وو، مګر د شرک کولو په وجه یې ټول اعمال نا منظور شو او د جهنم لائق وو.

نو که اوس هم دا شرک څوک کوی هغه به هم د جهنم لائق وي او ټول نیک اعمال به یې برباد وی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## د کلمې دویمه حصه محمد رسول الله

څرنګه چې اوله حصه د توحید او عقیده د اله واحد یو مسلمان لره ضروري ده دارنګې دا دویمه حصه ایمان بالرسول او محمد ﷺ آخري پیغمبر ګنړل. او د هغه راوړې شوې دین حق ګنړل ضروري دی او دین په ده کامل ګنړل ضروري دی.
امور د دین مِنَ الله تعالی او دی کښې د عقل او قیاس هیڅ دخل نه ګنړل د ایمان سره ضروري دی. او دارنګه د دین کارونه چې قربة الی الله او ثواب او عذاب پرې مرتب کیږي دا عقیده ساتل چې دا منقول دی د عقل او قیاس په کښې دخل نشته. مؤمن لره ضروري دی.

## تشریح

چې هر کله دین پوره شوې وه او پوره نقل شوې دې نو په دین کښې چې چا پس د خیر القرون نه څه جوړ کړی دی هغه محدث او بدعات دی. رد او لرې کول یې ضروري دی
لکه د قبرونو نه مدد غوښتل او دهغوې نه طواف کول او کانړې یې ښکلول او په هغوې غلافونه. شالونه شکراني غوړځول او کال په کال پرې عرس کول او بیا دا ثواب ګنړل دا ټول د شرک کارونه دی او بدعات دی. چې په درې غوره زمانو کښې نه وو

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

دارنګې عبادت خرخول لکه مړی پسی د قرآن مجید ختم کول او په هغې چائ او روټی خوړل یا پیسی اخستل یا په وخت د پیدایش په بانګ او یا د مړی په غسل اجرت اخستل. دارنګې خاص اوقات د عبات او د خیرات دپاره مقرر کول چې نقل د پیغمبر ﷺ او د اصحابو تابعینونه نوی. لکه شپه د جمعی د قراءت د سورت ملک یا د خیرات د پاره مقرر کول بدعت دی یا څلویښتی (چلهم) یا د کال (برسی) دا ټول بدعات دي.

دارنګې دعا عبادت دي چې په طریقه د پیغمبر ﷺ وي مګر د سنتو نه پس جمع کول او دا جمعیت ثواب ګڼړل دا بدعت دي څکه نبی علیه السلام یا اصحابو تابعینو د سنتو نه پس په جمع نه ده کړی. ځان ځان له یې کړی ده.

دارنګی د مړی کور کښې درې ورځو پورې طعام پخول او د هغوې نه خوړل خلاف د طریقی مسنونی دي

دارنګې فدیه د اسقاط چې ملایان پس د جنازی نه کینی او پردې مال یو بل ته بخشش کوی او غنیان یې اخلی او تقسیم د یتیمانانو د مالونو کوی او تاخیر په دفن کښې کوی دا ټول بدعات. خلاف شرع دی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

**الغرض:** پدې ملک کښې څرنګه چې بدو پیرانو شرک ذریعه د معاش ګرځولې ده. دغه شان علماء سوء بدعات ذریعه د معاش ګرځولی ده. او خپلې جوړې شوی طریقې یې میزان د دین ګرځولې دی. او د **اکملت لکم دینکم** نه عملاً انکار کوی.

نو ضروری دی چې د حق پرستو علماؤ دی یو جماعت وی چې رد د شرک او د بدعاتو اوکړی. او خیر خواهی د مسلمانانو اولټوی. او اشاعت د توحید او احیاء د سنتو اوکړی او دا ذلت چې د عقیدو شرکیو او تاوان په بدعاتو رسم ورواج کیږي. عام مسلمانان تری نه خلاص کړی.

﴿ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾

## دجماعتونو د جوړولو طریقه او شرائط د ارکانو

په هر ځای کښې چې د جماعت اشاعت التوحید والسنة یو رکن وی. په هغه دا ضروری دی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه ادا کړی. او دعوت الی الله سبحانه ته ورکړی.

## شرائط رکنیت

(۱) په عقیده د توحید باندې مضبوط کیدل او د هر قسم شرک او بدعت نه بیزاره کیدل او اقرار کول.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

(۲): په عام ژوندون کښې په وخت د غم و ښادي په اتباع د سنت نبويه ﷺ عهد کول.

(۳): ځمونږ رفقاء جماعت به دا اقرار کوی چې هیڅ قسم بدعاتو او رسم ورواج کښې به زه نه شاملیږم د **الحب لله والبغض لله**. مثال به ښکاره کوم.

(٤): البيان بالحكمة والموعظة الحسنة: حکمت کښې درې څیزونه مراد دی اول علم په مسئله. دویم عمل. دریم بیان مخلوق ته.

## تشریح

که پوره علم ئې په مسئله نه وي او دلیل او جواب د خصم نشي کولی هغه لائق د بیان نه دی.

که خپله عامل د توحید والسنة نه وی هغه داعی د توحید وسنت نشي کیدی.

که بیان نه کوی او کتمان کوی. او په شرک وبدعت کښې شاملیږي هغه رکن د جماعت نشي کیدی بلکه د وعید سزاوار دی

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴾ البقرة: ۱۵۹

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

افسوس چې بعضو بې علمه طالبانو دین خراب که. او بې عمله ملایانو صحیح دین فاسد که. او د حق پټونکو کتمان ته مداراة او حسن خلق اووی. دین یې ختم که. او جواهر ایمانی یې په سستۍ او په عناد کوټه که. او د مسلمان نه یې جوش او غیرت دینی اوښکه:

﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۚ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴾ التوبة: ۳۰.

(۵): ﴿ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ ﴾ النحل: ۱۲۵.

د توحید او سنت په بیان کښې د داسې الفاظ نه مستعملیږي چې د هغه نه مقابلو ته سب وشتم او بدې ردي معلوم شي. او په یو خاص معین فرد باندې حمله وی. بلکه د شرک او بدعت پوره بیان دِ وی. ﴿ فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ ﴾. خواه که د دې مصداق هر څوک وی

(۶): ﴿ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴾ الزمر: ۲.

هر قسم عبادت دِ د رب تعالی د رضا دپاره کوی. او په هغې د هیڅ قسم اجرت یا عزت د مخلوق نه اخستونکې او امیدوار نه وی

(۷): ﴿ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ ﴾ المؤمنون: ۵۱

د معاش د داسې ذرائعو نه به اجتناب کوی. چې په هغې کښې حرمت یا تعاون علی الاثم والعدوان معلومیږي

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

(۸): **صلة الرحم بالاتباع لا بالابتداع** : د رشته دارانو دوستانو په غم په ښادي کښې چې بدعات او خلاف شرع کارونه وي د هغې نه به اجتناب کوی، او تبری لله تعالى به کوی

(۹): ﴿إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ﴾ الممتحنة: ٤ : د داسې جماعتونو سره به تعلق نه ساتی چې هغوی د قران او سنت سره قولاً يا عملاً مزاحم وی.

(۱۰): عملاً به د هر شرک او بدعت نه بيزار وی او د بيان د پاره به د ميدان د تياره ولو کوشش کوی.

(۱۱): ﴿فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ﴾ الحجر: ٩٤. په علاقه کښې د مروجه شرک د رد کولو د پاره به سستی مداهنت نه کوی. او د بدعاتو مروجه د رد د پاره به د علاقې د امير سره صلاح او مشوره کوی.

(۱۲): د علاقې امير د بدعاتو مروجوود رد کولو د پاره چې يو خاص بدعت رد کوی د خپلو رفقاؤ سره به مناسب تدبير او صلاح کوی.

(۱۳): هر رکن حسبِ استطاعت د توحيد او سنت د پاره به انفاق د مال کوی يا چې مجلس شوری څه معين کړی.

(۱۴): په اصولِ خمسه د تاسيس الجماعة باندې ځان پوهه کول او پابند کول.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

(ا): په عقیده د توحید یو کیدل. ﴿ اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ ﴾. ځکه چې د خیالاتو مختلفه کسان نشي یو کیدی.

(ب): ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا ﴾ آل عمران: ۱۰۳:

کتاب او سنت دِ قانون وی او هر رکن دِ دیته گردن کیخودونکې وی او په دین کښې دِ بغیر د ادله اربعو نه د بل چا تابعدار نه وی.

(ج): ﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ ﴾ آل عمران: ۱۰٤:

هر رکن دِ مبلغ او داعی الی التوحید والسنة وی.

(د): ﴿ وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ ﴾آل عمران: ۱۱۵:

هر رکن دِ څه حصه د مال په دین باندې صرف کوی. نه دا چې په دین دِ گټه کوی.

(هـ): ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا ﴾

آل عمران: ۱۱۸: د مبتدعینو او مشرکینو نه د بیزار وی. ځکه چې هغوې د دین په فساد او د مسلمانانو په نقصان کښې هیڅ صرفه نه کوی.

(۱۵): د جماعت اشاعت التوحید والسنة د یو مرکز وی نو مرکز د دې جماعت د پاره مقام پنج پیر ضلع صوابی مقرر شه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

(۱۶): دا جماعت اشاعت التوحید والسنه دِ یو مرکزی مشر وی او هغه ته دِ د امیر جماعت خطاب وی.

(۱۷): د دې جماعت دِ یو مرکزی مجلس شوری وی چې خپل امور په دینی بصیرت فیصله کوی.

(۱۸): په هره علاقه دِ د ارکانو یوه جرګه (شوری) وی چې دا به د امیرِ علاقه ماتحت وی.

(۱۹): په هره علاقه کښې دِ د شوری د ارکانو یو خیراتی فنډ وی چې د هغه نه خرچ په توحید وسنت خوره ولو یا د شرک و بدعت رسم ورواج په بنده ولو دِ کیږي او د هغې دپوره آمد وخرچ دپاره دِ کتاب وی. او دا کتاب به د ناظم جماعت علاقه سره وی.

(۲۰): د علاقائی فنډ نه دِ څه حصه مرکزی فنډ ته ورکولې شي. څه چې مرکزی مجلس شوری مقرر کړی.

## اوصاف وشرائط امیر اعلی

(۱): امیر د جماعت هذا د په علم. دیانت. تقوی متصف وی او رد د شرک و بدعت کښې دِ د څه وخت نه کوشش کونکې وی.

﴿ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ﴾ ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ﴾

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

او صاحب د استقامت علی التوحید والسنه د وی ﴿ فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ﴾.

(۲): د توحید وسنت په عقیده د مضبوط وی. او د کتمان. مداهنت نه د ځان ساتونکې وی. او په رد د هیڅ بدعت باندې دې سکوت نه کوی.

(۳): په مجالسو د شرک او بدعت کښې دې شریک کیدونکې نه وی او د هغه نه قولاً یا فعلاً د بدعتیانو توقیر او احترام نه معلومیږي.

(۴): د علوم دینیه نه د واقف وی. او د قرآن کریم درس دی یې مشغله وی.

## اختیارات وفرائض امیر:

(۱): د مجلس شوری نه د مجلس عاملې انتخاب.

(۲): د علاقې د امراء تقرر وعزل.

(۳): د جماعت دپاره ضبط ونظم ومختلف فیه مسائل فیصله کول

(۴): د شوری راغونډه ول یا د عاملې

(۵): ماتحت جماعتونه ماتول یا ارکان شوری معطل کول.

(۶): مرکزی ناظم او خزانچی مقرر کول یا معزول کول.

(۷): مرکزی نائب امیر مقرر کول

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

(۸) : د مرکزي مالیات ذمه داري.

(۹) : میعاد د رکنیت د شورئ کښې توسیع کول یا د یوې علاقې نه زیات اخستل.

## مجلس شورئ :

(۱) : د توحید والسنه د اشاعت دپاره دې د متبعین سنت دَ امیر مرکزي ماتحت یوه جرګه وي. چې هغوی د مرکزي امیر سره صلاح کوي او مشوره ورله ورکوي.

(۲) : هر رکن شورئ دِ پس د خپلې عهدې نه اقرار او بیعت علی اشاعة التوحید والسنه و رد الشرک والبدعه په وړاندې د امیر او د شورئ اوکړي.

## اختیارات مجلس شورئ

(۱) : په کثرت رائې سره د امیر انتخاب.

(۲) : د حدود شرعیه لاندې په هره مسئله کښې بحث کول.

(۳) : محاسبه او تنقید په داسې طریقه چې جماعت جماعت ته نقصان نوي.

(۴) : شورئ کښې دِ کم از کم ثلث موجود وي.

(۵) : د علاقې د رکن په درخواست به دا مجلس شورئ غور وفکر کوي

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

## فرائض ارکان شوری

(۱): شوری ته بغیر د عذرِ صحیح حاضریدل.
(۲): په وخت د منصب د امارت خالی کیدو کښې غونډیدل او انتخاب د امیر کول.
(۳): د علاقې نه د یو رکن د شوری وی تعین او حد بندی د علاقې د د مرکزی امیر په صوابدید او نظروی. که امیر غواړی زیاتولې شي.
(۴): میعاد د رکنیت به درې کاله وی.

## شرائط امراء علاقه

(۱): هر امیر به په توحید او سنت ثابت وی او رد د شرک او بدعت کښې به مداهن (سست) نه وی او نه به کاتم (پټونکې) د حق وی.
(۲): مجالسو د شرک او بدعت کښې به نه شاملیږي.
(۳): د خپلې علاقې تنظیم به کوی.
(۴): د قرآن کریم تعلیم به حسب الاستطاعت په عام کال کښې او په شعبان او رمضان کښې به د دوره قران کریم انتظام کوی.
(۵): هره میاشت کښې به مرکز ته د اشاعت د توحید او سنت د توسیع اطلاع ورکوی.
(۶): د علاقې متفقین به په وخت د مناظرې کښې امیر علاقه ته رجوع کوی او هغه به د دوی حسب استطاعت امداد کوی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## اختیارات د امراؤ دعلاقو

(۱) : خپله علاقه کښې د مرکزی امیر غوندی اختیارات لری.

(۲) : د خپلې علاقې شوری مقرر کول او عامله جوړول .

(۳) : د جماعت اشاعت التوحید والسنه هر رکن ته که مناسب اوګڼړی. دبیان طریقه خودلې شی. یا چې خپله علاقه که د یو رکن بیان خلاف د شرعی حدودُ نه ګڼړی بندولې شي .

(۴) : په علاقه کښې د هغه فیصله په شان د مرکزی امیر به وی. او د هغه خلاف کول به د امیر مرکزی او د عام جماعت اشاعت التوحید والسنه خلاف کول به وی .


## تشریح

بعض کسان چې قابل د بیان نه وی او خپل تقریر کښې د شرعی حدودو نه زیاتې کوی. چې اوریدونکو ته د د ین نه نفرت پیدا کوی. یا په توحید وسنت دلیل نشی پیش کولې. او ازاله د شبهاتو شرکیو بدعیو نشی کولې او بد اثر پیدا کوی . مونږ. دا موزون اوګڼړله چې د داسې کسانو د امیر علاقه ذمه دار وی

**وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله و اصحابه واتباعه اجمعین الی یوم الدین .**

**۱۱ ربیع الاول سنـۀ ۱۳۸۳ هـ یوم جمعه مطابق ۲ :اگست سنـۀ ۱۹۶۳: بوقت : ۶ : بجې صبح منظور شه او نافذ العمل شه .**

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔




دچاپ ځائے

مکتبة الاشاعة

محله جنگی قصه خوانی پشاور

0300-5875425 / 0345-9459209

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔